International Journal of Human and Society (IJHS)

| E-ISSN: 2710-4966 | P-ISSN: 2710-4958 |
|---|---|
| Vol. 6. No. 01 (Jan-Mar) 2026 | Page 148-160 |

https://doi.org/10.5281/zenodo.19237887

# ضلع بونېر کښې د افسانوي ادب د خدوخال څېړنه

| | |
|---|---|
| Mr. Said Ibrar Ali Shah | Ph.D. Scholar, Pashto Department, University of Malakand<br>Email: sibrar146@gmail.com |
| Dr. Noor Ul Bassar Aman | Assistant professor, Pashto Department, University of Malakand<br>dr.aman@uom.edu.pk |

**Abstract:** *Fiction is an important form of literary expression that reflects the cultural values, social realities, and imaginative traditions of a society. The district of Bunir District, located in the province of Khyber Pakhtunkhwa in Pakistan, has a rich tradition of storytelling and fictional narratives rooted in local culture and oral heritage. This study examines the key features of fiction found in Bunir, focusing on themes, narrative style, characterization, and the influence of local traditions. The fictional works and narratives from the region often portray social life, tribal customs, moral values, and the everyday experiences of the community. Elements such as imagination, symbolism, and moral lessons are commonly used to convey deeper meanings and cultural messages. Additionally, the natural landscape, historical background, and social structure of Bunir strongly influence the development of fictional narratives. Through the analysis of selected stories and literary examples, the study highlights how fiction in Bunir not only serves as a form of entertainment but also acts as a medium for cultural preservation and social reflection. The research emphasizes the significance of documenting and studying regional fiction in order to better understand the literary and cultural heritage of the area.*

**Keywords:** District Bunir, Pashto Fiction, short story, novel, tails, writers

په بونېر کښې که مونږ د اولسي يا روايتي قيصو تاريخ ته نظر شو نو د پخوا نه په دغه بڼه سينه په سينه راروان دے ۔ دغه روايت ډېر لرغونے، خوږ او خوندور دے ۔ موضوعات ئې بنبهٔ اصلاحي، تاريخي، روماني، مذهبي، حقيقي، غېر حقيقي او په مافوق الفطرت افکارو لړلي اخښلي شوي دي ۔ هر څو که دغه د قيصو رواج اوس ورو ورو په ختمېدو دے، خو بايد چې څوک قيصه خوښي مئينان د خپلو مشرانو نه دغه قيصې د قلم يا موبائيل په ذريعه خوندي کړي او بيا ورله کتابي شکلونه ورکړي، دا زمونږ يوه قامي اثاثه ده، ژوند ئې خطرو سره مخ دے او هم دا لکه د لرغونو او تېره غونو شعري او نثري اصنافو سره د خپلو خالقينو او ليکوالانو د خاورو سره خاورې کيږي ۔ تر ډېره حده ضائع هم دي خو لا اوس هم وخت شته که څوک ځوان يا پېغله پرې لاس پورې کړي ځکه چې دا د زنانؤ او نارينؤ شريک اولسي ميراث دے ۔

د اوس وخت افسانه د عامې قيصې د سوونو زرګونو کالو نه راتېر شوے يو منظم او ځانګړے شکل دے

- په نړیوال کچ که د قیصې تاریخ ولټولے شي نو په وړومبي وختونو کښې عامو خلقو په خلق قیصو رواج موندلے دے، څکه چې لیک او تحریر ډېر وروستو مېدان ته راغلے دے - دغه قیصې د تېر وخت د واقعاتو یو غېر منظم یا تت تت منظم ډول اظهار وۀ - د وخت تېرېدو سره چې هر کله قیصې په وړومبي ځل یو منظم شکل اختیار کړے، هغه د داستان په رغونه کښې دے چې د افسانوي ادب بنیاد دے - دغه داستان منظوم او منثور دواړه کېدے شو او په موضوعي لحاظ سره به په کښې د مافوق الفطرت عناصرو سره ځینې ربښتیني واقعات په ډرامائي انداز کښې چېړلے شول - د داستان نه خبره ناول او په تېره تېره بیا افسانه په وجود کښې راغله -

د قیصې په دې لړۍ کښې د یونان ډرامې هم ډېرې د اهمیت وړ دي، چې ارسطو پړې په قبل مسیح کښې خپلې تجربې وړاندې کړي - د سټېج، رېډیو او ټیلي ویژن ډرامو خپل دورانونه تېر کړي او لا اوس هم د ډرامې سلسله دوامداره ده - خو زما د معلوماتو تر مخه د بونېر خاوره لا تر اوسه د ډرامې د فن نه خالي ده، د بده مرغه د دې ځاے لیکوالانو هڅو د ډرامې لیکلو هڅه نۀ ده کړې - البته په بېلابېلو تعلیمي ادارو کښې زده کوونکي د سټېج ډرامو شوق لري او کوي -

په بونېر کښې د معلومو شواهدو ترمخه وړومبے د پښتو ژبې لیکوال اخون دروېزه بابا دے - د دۀ نه وروستو بیا ددۀ د مکتب لیکوالان شاعران دي - که د واقعه نګارۍ په باب له وکتلے شي نو د دغه دور په شاعرۍ او نورو لیکونو کښې د ځینو پېښو او جنګونو ځرکونه په نظر راځي - د قیصه ګویۍ په لړ کښې د دغه دور د اخون احمد او سید حسین

نومونه د چا نه پټ پناه نۀ دي - دغه شان بیا وروستو په اولسي اصنافو لکه ټپه، بدله، چاربېته کښې د بونېر ځینې اهم واقعات ډېر په تجسس سره منظوم خوندي پراتۀ دي چې د واقعه نګارۍ په لړۍ کښې ډېر غټ اهمیت لري - دې اصنافو د نورو قامونو لکه مغل، سیکهـ او پیرنګ وغېره ؤ نه علاوه د خپل مینځني قبائلي جنګونو یاداشتونه هم په خپله لمنه کښې رانغاړلي دي چې دا ځانله یوه تاریخي او تحقیقي سرچینه ده، خو دلته زۀ په دغه بحث کښې د ورګډېدو نه ډډه کووم څکه چې دا وخت دغه کلامونه او واقعات راسپړدل د مقالې د ګېډې نه بهر دي -

په بونېر کښې د قیصه ایز ادب روایت ته که ځیر شو نو صورتحال ئې ارو مرو د نړیوال افسانوي ادب غوندې معلومېږي، خو یو بدلون ضرور لري او هغه دا چې قیصه ایز اصنافو دلته ډېر وروستو رواج موندلے دے او لا اوس لګیا دے د پرمختګ مزلونه سر کوي - د لرغوني دور د عامو زباني قیصو نه پس په شعوري توګه دلته داستان، ناول او افسانې د تحریري ادب برخه جوړ شوي دي - اوس راځو نېغ په نېغه په بونېر کښې دننه د دغه قیصه ایز اصنافو په روایت او ارتقاء لنډه جامع تبصره کوؤ -

## په بونېر کښې داستان ګوئي:

په نړیوال کچ که د قیصې یا داستان شالید ته وکتلے شي نو ډېر زوړ او لرغونے دے - دا ښکاره خبره ده چې څومره یوه ژبه زوړوالے یا اوږد ډېر عمر لري نو دومره په کښې د علمي، ثقافتي، مذهبي وغېره آثارو نه علاوه د ادب پنګه هم زړه، پخه او کوټلې وي -

پښتو هم یوه ساهو ژبه ده، په دې حساب که د پښتو داستان ګویۍ خبره وي نو دا ښۀ قوي امکان

لري چې دلته هم د قبل مسيح نه قيصه ايزو آثارو رواج لرلو خو د بده مرغه په تحريري شکل کښې نۀ دي خوندي شوي ۔ په دې لړ کښې که مونږ په خصوصي توګه د بونېر ادبي فضا له راشو نو دلته هم د قيصه ايز او نورو آثارو دغه حال دے ۔ د معلومو شواهدو ترمخه زمونږ سره د اخون درويزه بابا او د دۀ د مکتب ليکوالانو شاعرانو په ليکونو کښې د واقعه نګارۍ ښۀ واضح څرکونه موجود دي ۔ د دې نه وروسته بيا د اولسي ادب په ځينې اصنافو لکه ټپه، بدله، چاربېته وغېره کښې هم د دې ځائے د مختلفو پېښو او جنګونو تاريخي يادونه خوندي پراتۀ دي ۔

لکه که مونږ اوګورو نو د "مويزي" نومې شاعر يوه چاربېته د بونېر د تاريخي موادو قيمتي خزانه ده چې په کښې د بونېر د لښکر او د نوښار د کال ۱۸۲۳ء د جګړې خدوخال بيان شوے دے ۔[i] دغه رنګ نورې ګڼې چاربېتې، بدلې او ټپې داسې شتون لري چې په کښې د بونېر سپېځلے تاريخ خوندي پروت دے، خو زۀ دا وخت په دغه بحث کښې نۀ ورننوځم ۔

نېغ په نېغه د موضوع سره سم که د بونېر داستان اړخ ته راشو نو په دې حقله زمونږ سره دوه قسمه داستانونه دي، يو هغه چې د نومونو او تذکرو تر حده پورې دي ۔ په مېدان دا وخت زمونږ سره هيڅ نشته او دوېم هغه داستانونه دي چې زمونږ سره لاسو کښې محفوظ پراتۀ دي ۔

دوه داستانونه "ګل او صنوبر" او "سلطان بدرون" داسې دي چې د بونېر ليکوالانو ليکلې خو دا وخت زمونږ سره تحريري کتابي شکل کښې څۀ نشته ۔ صرف او صرف په ځينو تذکرو کښې د دوي يادونه شوې ۔ د معلومو شواهدو ترمخه د "ګل صنوبر" داستان ادم خان نومې يو ليکوال ليکلے دے ۔ په دې حقله شيرين زاده خدوخېل په خپل اردو کتاب "ميرا خدوخېل" کښې وائي چې ادم خان د ۱۸۶۰ء خواؤشا ژوند تېر کړے دے، دۀ د ګل صنوبر يو منثور داستان راجوړ کړے وۀ خو دغه کتاب اوس ناياب دے ۔[ii]

دغه رنګ "سلطان بدرون" نومې داستان د پمفلټ په شکل کښې په اردو ژبه د کوز بونېر چينګلۍ اوسېدونکي ليکوال کشور خان تخليق کړے ۔ چې پېښِ لفظ ئې د اردو مشهور اديب اسد محمدخان ليکلے دے، د ليک کال ئې ۱۹۸۳ء دے خو د بد قسمتۍ نه دا داستان هم زمونږ نه ګوډ دے ۔[iii]

مونږ خپل زيار او کوشش جاري ساتو امېد دے چې ډېر زر دغه قيمتي ډالۍ زمونږ لاسو ته راشي ۔ دغه شان يو داستان د "ليلیٰ مجنون" په نامه د خوشحال خان خټک هم عصر ليکوال بهائي خان ترجمه کړے دے، چې تعلق ئې د بونېر سره ښودلے کېږي ۔ د دۀ په حقله عبدالحئ حبيبي ليکي:

**" دا شاعر مونږ په لاندې دوه سنده پېژنو:**

لومړے خو د کندهار د هوتکو يو مشهور شاعر عبدالرحيم د دۀ نوم په يو بيت کښې راوړے او دې ئې د خوشحال خان خټک سره سيال ګڼلے دے، هغه بيت دا دے :

که مې ناړې ستا تېرې کړې تر ستونې
پير کامل به د خټک او د بائي خان شم

له دې تذکاره مونږ دا راويستلے شو، چې بائي خان د عبدالرحيم تر عصر د مخه وۀ۔ د عبدالرحيم د ژوندون دوره خو د (۱۱۵۰ھ) په حدودو کښې ده، نو مونږ دا تخمين کولے شو، چې بائي خان د (۱۱۰۰ھ) په حدودو کښې ژوندے او د خوشحال خان خټک له

معاصرينو څخه وهٔ، ولې چې عبدالرحيم هم دې د خوشحال خان سره سيال او يو ځاے ياد کړے۔

دويم مسټر راورټي د خپل ګرامر په مقدمه کښې ليکي، چې بائي خان د بونېر ؤ او دهٔ د مولانا جامي "ليلیٰ او مجنون" په پښتو نظم کړے دے، دا کتاب اوس ورک دے او داسې ښکاريږي چې هغهٔ مستشرق ئې نسخه موندلې وه۔

راورټي دخپل ګرامر په (۵۰) مخ کښې د بائي خان له "ليلیٰ او مجنون" څخه فقط دغه يو بيت راوړے، او د هغو ملغلرو له لړه ئې مونږ ته دغه يوه دانه را ساتلې ده، نور اشعار ئې اوس زمونږ لاس ته نهٔ راغله، له دې بيته ښکاريږي چې د بائي خان "ليلیٰ او مجنون" په لنډ بحر کښې د قصيدې په ډول ؤ۔ د بائي خان هغه يو بيت دا دے :

له دې خپلې بدې برخې
چاته ژاړم په چا داد کړم"[iv]

د بهائي خان د مقام، حېثيت او زمانې اندازه د پورته ليک نه په اسانه لګېدے شي ۔ پوهان وائي چې د دهٔ دغه ترجمه داستان  په قلمي ليک کښې په پښتو اکېډمۍ پېښور کښې د نورو قلمي نسخو سره محفوظ پروت دے ۔ د نور شعر ونثر په حقله ئې کتابونه خاموش دي چې نور ئې څومره ليکونه کړي دي ۔ بهر حال د دې داستان  په اړه زهٔ دلته د خپلو خبرو د پخلي دپاره د عبدالله جان عابد دې ليک ته رجوع کووم چې د زلمي هېواد مل د خېړنې په رڼا کښې ئې کړے دے:

"زلمے ہیواد مل کی تحقیق کے مطابق بونیر کے بھائی خان نامی شاعر نے مولانا جامی(رح) کی لیلیٰ مجنون کا پشتو میں ترجمہ کیا، جو تا حال غیر مطبوعہ ہے۔ اس ترجمہ داستان کا ایک خطی نسخہ پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی کے کتب خانے میں محفوظ ہے۔ "[v]

د بائي خان د داستان اهميت په دې حقله ډېر د قدر وړ دے چې يو پله دے د خوشحال خان خټک هم عصر ليکوال دے او بل پله دهٔ په داستاني ادب کښې د ترجمې وړومبۍ هڅه کړې ده ۔ چې په دغه وختونو کښې پښتو ادب لا د دغه قسمه هنري اصنافو نه ناشنا وهٔ ۔ بايد چې دا ناوياته فن پاره چې په پښتو اکېډمۍ کښې پرته ده ۔ که څوک په پښتو مئين ئي زر تر زره  د چاپ په ښه د خاص و عام لاسو ته راولي او ورسره د بائي خان د ژوند او نورو ادبي هلو ځلو پېژندګلو  که څومره هم ممکن وي په ادبي مينه رابرڅېره کړي، نو د کلاسک د وختو يوه فن پاره او ليکوال به مخې ته راشي او دغه رنګ په دې سره به د پښتو ادب او په خصوصي توګه د بونېر افسانوي ادب لمنه نوره  هم راډکه شي ۔

## صاحب زر کلياړ وال:

صاحب زر کلياړ وال د بونېر په کلياړۍ کلي کښې د ښاغلي  علي اصغر کره په کال ۱۹۴۹ء کښې پيدا شوے دے ۔ يو اولسي شاعر دے ۔ خپله زياتره شاعري ورته په يادو ياده ده، د خپلې شاعرۍ د ليکلو خوندي کولو دپاره د خپلو ملګرو، زامنو ، نمسو او نورو کشرانو مرسته هم اخلي، ځکه چې په خپله ليک نهٔ شي کولے ۔ يوه د شاعرۍ مجموعه "جنون او جانان" ئې د "ادبي جرګې بونېر" په مالي مرسته په کال ۲۰۱۵ء کښې چاپ شوې ده ۔

صاحب زر د نورې شاعرۍ نه پرته د پېغمبرانو(ع)، اصحابو او اولياؤ کرامو(رح) وغېره رښتيني واقعات هم په اولسي رنګ کښې منظوموي ۔  يو څو

داستانونه ئې ماته زباني واورول او بيا ئې راته په دې حقله ووئيل:

"ما د حضرت ابراهيم(ع)، حضرت موسیٰ(ع)، حضرت عمر(رض)، حضرت عثمان(رض)، حضرت علي(رض)، لوے پير دستگير (رح)، پير بابا(رح)، دېوانه بابا(رح) او داسې نور لوے وارۀ داستانونه د چاربېتو او بدلو په شکل کښې منظوم کړي دي او په خپلو ډائرو کښې راسره محفوظ پراتۀ دي ـ"[vi]

خدائے دې وکړي چې څوک په شعر وادب مئېن د صاحب زر کلياړوال د ډائرو دغه ټول مواد راټول کړي او د کلياتو په شکل کښې ئې د چاپ په ښه خوندي کړي ـ

**خانم الله خانے:**

خانم الله خاني د بونېر په باجکټه کلي کښې د حضرت الله په کاله په کال ۱۹۲۴ء کښې سترگې غړولې دي ـ د وفات ورځ ئې د مارچ د مياشتې لسمه نېټه کال ۱۹۹۴ء دے ـ دۀ خپله زياته شاعري په حجرو، بېټکونو کښې د رباب منگي سره زمزمه کړې ـ وئيلے کيږي چې ډېرو مشرانو ته د دۀ کلامونه زباني ياد وو ـ خو د بده مرغه هغه مشران هم اوس نشته او په ليکلي شکل کښې هم اوس وخت نۀ ده پاتې ـ په دغه وجه د دۀ زيات کلامونه بيخي ورک دي ـ البته د داستان په شکل کښې يوه کتابچه "قيصه د پير بابا" په نوم ئې اوس وخت شتون لري چې د ليک کال پرې ۱۹۵۶ء درج دے ـ دغه کتابچه تر اوولسو مخونو پورې د پير بابا د ژوند قيصه ده ـ د قيصې په مينځ مينځ کښې ځاے په ځاے وړې وړې قيصې، رباعيانې، چاربېتې او لوبې هم راوړلے شوې دي او داسې دا داستان مخ په وړاندې روان وي ـ دغه شان د قيصې نه پس په دې کتابچه کښې په وروستو مخونو نورې لوبې، رباعيانې او غزلې هم د شاعر درج شوي دي ـ

د معلومو شواهدو تر مخه "خانے شاعر" د بونېر وړومبے ليکوال دے چې خپل طبع زاد داستان "قيصه د پير بابا" ئې چاپ دے او زمونږ سره لاسو کښې هم موجود دے ـ دلته ترې د حوالې په توگه څو شعرونه نقل کول ضروري گڼم :

"ما په غوړو اورېدلے يو بيان وۀ
په ورو ورو مې کوشېر کړے په زبان وۀ
يو بادشاه وۀ په ډهلي کښې زما وروره
سلطنت ئې امانت په هندوستان وۀ

دا بادشاه چې يادېدو نوم ئې بابر وۀ
کمے نۀ وۀ د هغۀ د نوکرانو
يو سيد د دۀ د فوځ رسالدار وۀ
نوم ئې وۀ قمبر علي دا ئې نشان وۀ

د دۀ زوے وۀ چې نوم ئې سيد علي وۀ
خوشبوئي ترېنه راتله گل د بوستان وۀ
د نيکۀ نوم ئې يادېږي سيد احمد دے
ډېر طاقت ورله ورکړے پاک سبحان وۀ

خاص ترمذ ئې دے وطن قندوس ئې کلے
د جيحون درياب په غاړه ئې مکان وۀ
ما خاني د پير بابا قيصه شروع کړه
مطلبونه ترېنه اخلئ عاقلانو"[vii]

**حاجي محمد خان:**

حاجي محمد خان د چغرزو بونېر په مېرگۍ کلي کښې د ښاغلي احمد خان کره زېږېدلے وۀ ـ يو اولسي شاعر وۀ، څۀ کلامونه ئې په رېډيو پېښبور

کښلې د نن نه څلوېښت پنځوس کاله وړاندې ریکارډ شوي دي ـ په تحریري شکل کښې ئې دا وخت درې کتابونه چاپ دي چې په کښې یو شمېر قیصې شتون لري ـ حیدر علي اخوند خېل د دوي د کتابونو په حقله لیکي:

"تپہ اسماعیل خیل سے تعلق رکھنے والا میرہ گئی کا حاجی محمد خان (مرحوم) ہے۔ تین کتابوں کے مصنف ہیں۔ جو کہ مختلف اصناف پر مشتمل ہیں۔ ان کے نام یہ ہیں "یوہ سانگہ دری گلونہ" منظوم قیصوں کا مجموعہ ہے۔ دوسری کتاب "نیمبولا او خاپیرئ" اور تیسرا مجموعہ " دری ملغلری" نامی کتاب ہے۔ جو کہ بالترتیب قیصوں، رباعیات، مصرعوں اور لوبو پر مشتمل ہیں۔ اُن کے کلام میں روانی، سلاست اور مٹھاس موجود ہے۔ بنیادی طور پر نظم گو شاعر ہے۔ جب کہ غزل کا شاذ ونادر تجربہ دیکھنے کو ملتا ہے۔ جو نہیں کے برابر ہے۔ آپ کا کلام اس وقت کے مشہور گلوکاروں وحیدگل اور فضل قیوم نے خوبصورت آواز سے گایا ہے۔"[viii]

د حاجي محمد خان درې واړه کتابونه په مختلفو اولسي قیصو مشتمل دي ـ زما سره لاسو کښې ئې کتاب "درې ملغلرې" موجود دے، چې په کښې درې داستانونه "قیصه د پیر بابا"، "قیصه د جنګ ستمبر سن ۱۹۶۵ء" او "قیصه د مېمونې او شېر عالم خان" شامل دي ـ دلته د مېمونې شېر عالم خان د روماني قیصې یو څو شعرونه د نمونې په توګه رانقل کوو:

"زۀ شروع درته کوومه په بیان یوه قیصه ده ټوله ډکه د خفګان علاقه د باجوړ ناوګۍ کلي شېرعالم وۀ د دې کلي خاندان عزت مند او دولت مند ترې بل څوک نۀ وۀ پلار او ترۀ ئې وو د وخته مشران مېمونې د شېرعالم د ترۀ پېدا وه په وړوکوالي کښې یو ځاے وو سبقیان د وړوکوالي نه ئې یو بل سره مینه په ورو ورو پرې د ځوانۍ راغے دوران مېمونې به ورته وې چې ما واده کړه زۀ په خپله درته وایم دا زمان شېرعالم ورته وئیل یقین مې نشته واک مې نۀ دے د کاکا دا کار دے ګران مېمونې شوله په خپل کور کښې په ستر شېرعالم به ورپسې وۀ سرګردان مېمونې به کله کله په ژړا شوه د فراق اوښکې به ئې تلې په مخ باران همېشه به ئې سوال کوو د پاک الله نه خدایه ته مې کړې نصیب شېرعالم خان"[ix]

**د بونېر په خاوره د ناول لنډ جاج:**

د پښتو ادب د طبع زاد ناول ابتداء راحت زاخېلي کړې ده، دۀ په کال ۱۹۱۲ء کښې د "ماه رخ" په نوم په وړومبي ځل ناول لیکلے دے ـ چې یو ناشنا افسانوي ټولنه کښې دغه تجربه انتهائي د داد او تحسین وړ ده ـ [x]

د ناول دغه سلسله په پښتو ادب کښې ښۀ دوامداره پاتې نۀ شوه، ډېر کلونه وروستو بیا محمد رفیع قانع په کال ۱۹۳۹ء کښې"دوه سره مئین ورونړه" [xi] او نور محمد ترکئ په کال ۱۹۴۰ء کښې د "بې تربیته زوے"[xii] په نومونو ناولونه ولیکل ـ دغه رنګ وړومبے په فن او فکر پوره ناول "پېغله" په کال ۱۹۵۰ء کښې د حافظ محمد ادریس د ذهن اختراع ده[xiii]، چې د وروستو ناول نګارو دپاره یو مشعل راه

جوړ شو ـ د دغه خاص خاص ناولونو نه پس بیا وخت په وخت ګڼو لیکوالانو په بېلابېلو موضوعاتو یو شمېر تاریخي، جنسي، رومانوي، معاشرتي او نورو فکري اړخونو بنۍ اصلاحي او ګټور ناولونه ولیکل ـ دا لړۍ تر دې دمه روانه ده، خو که په ژور نظر په پښتو ادب کښې د ناول نګارۍ ننداره وکړے شي نو زمونږ د ادب دا اړخ لا اوس هم ډېر نیمګړے دے ـ امېد دے د وخت سره سره به دا ډکون پوره شي ـ

د ناول نګارۍ په دې لړ کښې پښتو ادب ته د ترجمه ناولونه هم کافي فن پارې د نړۍ د مختلفو ژبو نه ژباړل شوي دي او د افسانوي ادب دغه تنده ئې تر څۀ حده ماته کړې ده ـ بلکې رښتیا خبره دا ده چې د پښتو ناول ابتدا د یو ترجمه شوي ناول نه شوې ده ـ د وړومبي ترجمه شوي ناول هڅه چا کړې ده؟ زۀ په دې بحث کښې نۀ ورننوځم، البته په دې اړه د ښاغلي رشید احمد د علمي لیک سره متفق یم چې په خپل تحقیقي کتاب کښې ئې پرې قلم چلولے دے :

"یو مبلغ" پادري تهوما یوحنالي مهر "قاضي عبدالرحمان ته د" جان بنین "د ناول" پېلګرم پراګرېس "پښتو ته اړولو وبنا اوکړه ـ او هم دغه رنګ قاضي عبدالرحمان دغه ناول پښتو ته د" سیر السالکین "په نامه ترجمه کړو ـ چې د روحاني سفر قیصه ده او هم په دغه کال یعني ۱۸۷۷ء کښې دا چاپ او خور شو او دغه رنګ په پښتو ژبه کښې وړومبې ترجمه شوے ناول چاپ اوګرځېدو "[xiv]

د پورته تعرفي لیک نه پس که مونږه په ځانګړي توګه بونېر کښې د ناول تذکرې له راشو نو مېدان بیخي خالي دے ـ دلته زمونږ سره یواځینے ناول نګار شیرین زاده خدوخېل دے چې دوه طبع زاده ناولونه ئې لیکلي دي ـ وړومبے ناول "غازیان" ئې په کال ۱۹۹۶ء کښې لیکلے دے او دوېم ناول "غانټول" ئې په کال ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوے دے ـ

د ناول نګارۍ په دې لړۍ کښې د "سدارتهـ" ناول ژباړنه هم د یادولو وړ ده چې د دې خاورې د لیکوال ادیب شاهین بونېري د زیار نتیجه ده ـ دا ترجمه په کال ۲۰۲۱ء کښې د چاپ په ښه مخې ته راغلې ده ـ د پورته درې ناولونو نه علاوه د بونېر فضا د ناول نه بیخي وزګاره ده، اوس راځو د دغه ناولونو یو په یو جاج اخلو او لنډه مګر جامع تبصره پرې وړاندې کوؤ ـ

**غازیان:**

غازیان د بونېر په خاوره وړومبے طبع زاد ناول دے چې د افسانوي ادب استاد لیکوال شیرین زاده خدوخېل د ذهن یوه ناویاته اختراع ده ـ ناویاته په دې بنیاد چې په تاریخي لحاظ سره په کښې د سید احمد شهید او شاه اسماعیل شهید دې د مجاهدین تحریک بیان او اظهار ډېر په ښائسته او زړۀ راښکون طریقې سره راټول شوے او خوندي شوے دے ـ

د ناول ترون د درې لویو هستیو حافظ ابراهیم دهلوي، فیاض خان شهید او درېم د ناول نګار د نیکۀ شېر افضل بابا چې د کلي ټولو خلقو به ورته د مینې نه "بابا" وې په نومونو سره شوے دے ـ

په ناول باندې سریزه نشته او نۀ پرې د چاپ کال شته، خو په اخره کښې پرې د خاتمې نېټه (۲۶) ستمبر کال ۱۹۹۴ء درج ده، خو ناول نګار په دې حقله راته زما د پوښتنې په جواب کښې ووئیل چې دا ناول بیا د ۱۹۹۴ء نه دوه کاله وروسته په کال ۱۹۹۶ء کښې چاپ شوے دے ـ[xv]

دا یو تاریخي ناول دے خو د نورو تاریخي واقعاتو

سره سره په کښې د غورغښتو بونبر د سیمې یوه تاریخي رومانوي قیصې داسې په هنر هنر ځاے په ځاے پیوند شوې چې د ناول ښائست ئې یو په دوه کړے دے ۔

د ناول مرکزي موضوع د مجاهدینو او سیکهانو په خپل مینځ کښې د شخړو د تسلسل یوه هنري خاکه ده ۔ ناول نګار د دغه وخت یو ربښتونے انځور زمونږ په وړاندې ایښودے دے ۔ د ځینو پښتنو سردارانو لکه یار محمد خان، سلطان محمد خان او ښادي خان بې وفایۍ او غدارۍ ئې په ډاګه کړي او دغه رنګ ځینې وفادار، نزان، مشران لکه فتح خان د پنچتار، ارباب فیض الله خان د پیښور او بهرام خان د بر تاکال هم د ناول اهم کردارونه دي ۔

تاریخي لحاظ سره په ناول کښې د اکوړي جنګ، د شیدو جنګ، د مجاهدینو پنجتار بونبر ته راتګ، د مایار جنګ، په پیښور د مجاهدینو قبضه او په اخره کښې د بالاکوټ په مقام د سیکهانو د لاسه د مجاهدینو د شهادت او بېلات هغه مناظر لیکوال په افسانوي ژبه ښهٔ په فنکارۍ سره بیان کړي دي ۔

د ناول یو ژوندے ګرندے کردار کریم جان دے څوک چې د شیربانو د مینې دېوانه وي ۔ وخت په وخت د ناول زخمي او ژوبل وجود ته د عشق او رومان اوبهٔ ورکوي او د ناول په سسپنس کښې یوه نوې ساه وراچوي خو سره د مینې د دې داستان کریم جان د سید احمد شهید د لښکر یو بهادر او سرتېرے غازي هم وي، په هره معرکه کښې د خپلې خاورې او مذهب په خاطر هر قسمه قربانۍ ته نبغ ولاړ وي ۔ او د مجاهدینو د بونبر پرېښودو پورې ورسره ملګرے وي ۔ دا مثالي کردار د یو اوږد سسپنس او اتار چړهاؤ نه پس خپل عشقیه هدف ترلاسه کړي، دلته د ناول نه یو رومانوي زړهٔ راښکونکے مګر د حیا نه ډک ښکلے منظر د حوالې په توګه وړاندې کوومه او دا خپلې خبرې د "غازیان" ناول په حقله راټولوومه:

"زیړے مازیګر وُ۔ د کریم جان مور ګودر ته اوبو له تللې وه او هغهٔ کور کښې یک یواځې ناست وُ۔ د شیربانو سوچونه ئې کول۔ چې د کوځې ور لرې شو او اواز راغلو" چاچي چاچي "کریم جان د سترګو نه را بهر شو نو په سترګو ئې یقین را نغلو هغهٔ وئیل چې ګنې خوب وینم۔ خو دا حقیقت وُ۔ چې د هغهٔ مخې ته شیربانو په لاس کښې د پیؤ جام نیولې ولاړه وه۔ شیربانو د کریم جان په لیدو لږه ساه نیولې غوندې شوه۔ د دواړو سترګې یو بل سره برابر شوې۔ او د بڼو په ژبه ئې د خپلو زړونو حال یو بل ته څرګند کړو۔ لږ ساعت ئې یو بل ته نبغ نبغ کتل۔ د شیربانو حیاناکې سترګې د کریم جان مینې نه ډکو سترګو ته سلامي شوې۔" چاچي څه شوه؟ " د شیربانو غږ هغهٔ د خیالونو د دنیا نه را بهر کړو او د شرمه ئې زر خپلې سترګې ښکته کړې۔" "[xvi]

**غانټول:**

غانټول د شیرین زاده خدوخېل دوېم طبع زاد ناول دے ۔ په کال ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوے دے ۔ د ناول انتساب د دوؤ مشرانو، پوهانو سعید ګوهر او قلندر مومند په نومونو سره شوے دے او سریزه پرې ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکلې ده ۔

د جوړښت په لحاظ سره دا ناول په پښتو ادب کښې ځانګړتیا ضرور لري، هغه داسې چې د ناول واقعات څهٔ مسلسل په بیانیه یا مکالمو وغېره په شکل کښې مخ په وړاندې نهٔ دي تللي ۔ بلکې دلته مختلف کردارونه لکه اکبر، پلار، مور، شاهین، پروین او داسې نور په وخت د ضرورت د خپلې برخې واقعات

ببل ببل ځانله د متکلم  په صیغه کښې مخکښې بوځي ـ مطلب هر کردار په خپله ژبه غږیږي ـ او قیصې مخ په وړاندې تګ کوي ـ

په فکري لحاظ سره ناول نګار د دې دنیاوي ژوند حقیقت په ډاګه کړے دے چې دا هر څۀ لوبې او ډرامه ده چې لیدے شي ـ بیا هم وخت چاته انتظار نۀ کوي ـ په دې وجه ضائع کول نۀ دي پکار او په هر حالت کښې ترې ګټه پورته کول ضروري دي ـ دغه رنګ په ناول کښې د پښتنې سیمې دود دستور او د کورني ژوند د کردارونو کړۀ وړۀ او نفسیاتو جائزه په کښې ډیره په هنر هنر اخستے شوې ده ـ  په دې اړه زۀ د ډاکټر راج ولي شاه خټک دا وینا رانقل کووم چې د ناول په سریزه کښې لیکي:

"د شیرین زاده خدوخېل په دې ناول کښې د ماشومتوب نه تر پاخۀ عمر پورې د یوې مخصوص سیمې د پښتنو د نفسیاتو کره جاج اخستے شوےد ے ـ د کور د محلت او د کلي د ژوند تصویر په کښې راښکلے شوے دے ـ د زمانې د یو پړاؤ د یو دوران عکس په کښې لیدے شي ـ تر دې چې د زنانۀ د نفسیاتو جائزه هم په کښې وړاندې شوې ده ـ شاید چې د پښتنو په ځینو سیمو کښې تر اوسه پورې حالت هم داسې وي ـ"[xvii]

ناول نګار د ناول په خاتمه کښې انساني ژوند د غاټول د ګل سره مشابه کوي ـ په ناول کښې دغه څو اصلاحي خبرې د مجذوب کردار "شاشاني" په ژبه څۀ داسې ظاهروي ـ

"ستا ذات د غاټول یو ګل دے چې نۀ د چا د وربل ښائست شو- نۀ د چا د غاړې هار او سنګار- نۀ ترې د مینې ډالۍ جوړه شوه او د ښکلیو د خوبانو د نظر ننداره شوې- بس د غرۀ په پرخو او چرو کښې راټوکېدلې، غوټۍ شوې، ګل شوې او بیا پاڼې پاڼې ترمې لاړې- تخم دې ګزار کړو او بس --------ستا حېثیت د غاټول د ګل نه سیوا څه شو- تۀ پخپله ووایه ؟؟؟"[xviii]

سدارتھ :

د بونېر په افسانوي فضا کښې "سدارتھ" یواځینے ناول دے چې پښتو ته ژباړلے شوے دے ـ  ناول بنیادي طور جرمن ناول نګار "هرمن هیسے" لیکلے، انګرېزي ژباړنه ئې  "هیلډارازنر" کړې، زمونږ شاهین بونېري دغه د هیلډارازنر انګرېزي ژباړنه په پښتو کښې ترجمه کړې ده ـ [xix]

سدارتھ ناول په پښتو افسانوي ادب کښې یوه نادره اضافه ده او بیا د ترجمې په لړ کښې  خو ډېره کامیابه هڅه ده ـ ترجمه نګار د ټکي په ټکي معنو نه ډډه کړې ده، بلکې د ناول ټول خیالي افکار ئې په پښتو کړي دي، چې دا خواري  ئې لا د داد او داد وړ ده ـ  په ناول کښې سدارتھ د ژوند ښلاښلې پړاوونه ډېر په زړۀ راښکون انداز سره بیان شوي ـ د ناول په اړه د شاهین  بونېري څو خپلې خبرې د حوالې په توګه راوړل ضروري ګڼم :

"هیسے د نن نه دوه دوه نیم زره کاله وړاندې په هند کښې د یو برهمن ځوان قیصه کوي ـ چې د ربښتیاؤ او رڼا په لټون کښې خپل کور او مور پلار پرېږدي، مراقبې کوي، مینه کوي، د جدایۍ له اذیته تېرېږي، غمونه او وسوسې ئې خوري، مال دولت ګټي او بیا ئې بائیلي- تر دې چې د ګوتم بدها سره هم ملاقات کوي او د هغۀ له پاره د ډېر احترام باوجود هم د هغۀ تابعدارۍ ته غاړه نۀ ږدي- خپله لار وهي او د رڼا په لټون کښې خپل مزل له دوام ورکوي- په پایې کښې فطرت ته غاړه ووځي او د یو سیند په چپو او

اواز کښې د ژوند پټ رازونه بيا مومي"[xx]

ياده دې وي چې "هرمن هيسے" يو عظيم ليکوال، ناول نګار، فلسفي، شاعر او موسيقار وۀ ـ دۀ د کال ۱۸۷۷ء نه واخله تر ۱۹۶۲ء پورې په خپل (۸۵) کاله ژوند کښې ډېرې کاميابۍ ترلاسه کړې ـ "سدارتهـ" ناول ئې په کال ۱۹۲۲ء کښې ليکلے دے او دغه رنګ د خپلو ادبي خدماتو په بدله کښې ورته په کال ۱۹۴۶ء کښې نوبل ايوارډ هم ورکړے شوے دے ـ[xxi]

يادګېرنه: شاهين بونېرے په کال ۱۹۷۸ء کښې په شلبانډۍ کلي بونېر کښې د بنياغلي صوبت خان کره زېږېدلے دے ـ نن سبا د چيک ريپبلک په مرکزي ښار پراګ کښې ژوند کوي او په ريډيو "فري يورپ" کښې بطور جرنلسټ پاتې شوے دے ـ په شعر او نثر دواړو قلم چلوي ـ عام نثري دوه کتابونه "ديوال سره خبرې" او "مشالونه" (د خدائي خدمتګارو د ژوند حال) ئې چاپ دي او دغه شان دا مذکوره ناول "سدارتهـ" ئې د کورونا وبائي بيمارۍ په ورځو کښې ژباړلے قيمتي اثر دے، چې په فروري کال ۲۰۲۱ء کښې چاپ شوے دے ـ

**په بونېر کښې د افسانې ورومبيان:**

د بونېر په خاوره که مونږ د افسانې اغاز ته ځير شو نو په دې لړۍ کښې زمونږ سره ورومبۍ نامه د افسانه نګار تاج رحيم راځي، چې په افسانه ليکلو ئې ګوتې پورې کړې دي ـ د دۀ ورومبۍ ترجمه افسانه "زامن لوڼه" چې د احمد نديم قاسمي د اردو افسانې "بيٹے بيٹياں" ژباړه ده، د قند رسالې د اکتوبر کال ۱۹۶۰ء په ګڼه کښې خپره شوې ده ـ[xxii]

د پورته ليک نه دا اندازه لګي چې په بونېر کښې د افسانې اغاز د ترجمه افسانې نه شوے دے ـ دغه رنګ د طبع زاد افسانې ابتداء هم د تاج رحيم د افسانې "زما د مور باهو" نه شوې ده چې په دغه قند مجله کښې په جنوري ۱۹۶۲ء کښې شائع شوې ده ـ[xxiii]

**پښتو افسانوي ټولګې:**

په بونېر کښې تر دې دمه د پښتو اتۀ افسانوي ټولګې د چاپ له ګاڼې مخې ته راغلې دي ـ څلور افسانوي مجموعې په کښې د شيرين زاده خدوخېل "ميتريا"(۱۹۹۸ء)، "خالي لاسونه"(۱۹۹۹ء)، د" پښتو لار" (۲۰۰۹ء) او "شل مخونه" (۲۰۲۴ء)"، يوه افسانوي مجموعه د تاج رحيم "قيصې ميصې"(۲۰۱۳ء) او درې افسانوي مجموعې د موسیٰ ګل ګل "افسانه که حقيقت"(۲۰۱۲ء)، "مازيګرے"(۲۰۱۶ء) او "داج" (۲۰۲۰ء) شامل دي ـ

په دې حقله زمونږ د افسانې سرخېل او باني تاج رحيم دے چې په بونېر کښې ئې په ورومبي ځل ترجمه او طبع زاد افسانو ته لاس ور اچولے دے ـ

دغه شان په بونېر کښې ورومبۍ اردو افسانه "دوسرا سہارا" شيرين زاده خدوخېل ليکلې ده چې په "شمع" مجله جون ۱۹۸۳ء کښې شائع شوې ـ[xxiv]

د بونېر د ورومبۍ پښتو افسانوي مجموعې "ميتريا" خالق هم شيرين زاده خدوخېل دے چې په کال ۱۹۹۸ء کښې چاپ شوے دے ـ

دغه رنګ په بونېر کښې د ورومبۍ اردو افسانوي مجموعې "مدفن کہاں نصيب" ليکونکے زمونږ سره موسیٰ ګل ګل دے ـ دا کتاب په کال ۲۰۱۵ء کښې د اشاعت د مرحلو نه تېر شوے دے ـ[xxv]

د دې نه علاوه په بونېر کښې د ترجمه افسانو ټولګه لا په کتابي شکل کښې نۀ ده راغلې البته زما سره

اوس وخت د موسیٰ ګل ګل د ترجمه افسانو یوه مسوده ده چې ډېر زر به د چاپ په ګالو ښائسته شي ـ دا د کرشن چندر د اردو افسانو "ہم وحشی ہیں" پښتو ژباړنه "مونږ وحشیان یو"ده ـ سید حسینه ګل پرې سریزه لیکلې ده او ټولې اووهٔ(۷) افسانې لري ـ

**په ضلع بونېر کښې اردو افسانه:**

په بونېر کښې که مونږ د اردو افسانې ارتقاء ته اوګورو نو دومره کوټلې او غښتلې نهٔ ده، دلته په شمار څو لیکوالان دي چې اردو افسانې ئې تخلیق کړې دي ـ که مونږ دا خبره یقین او حقیقت ته رسوؤ چې د بونېر په خاوره د اردو افسانې ابتداء چا او کله کړې؟ نو په دې حقله وړومبی نامه د شیرین زاده خدوخېل راځي چې د خپلې وړومبی طبع زاد افسانې "دوسرا سہارا" نه ئې اغاز کړے دے ـ په دې اړه زهٔ د ښاغلي ارشد انور د مقالې دا معلوماتي خبر راوړل ضروري ګڼم چې په بونېر کښې د اردو افسانوي ادب په باب له لیکي:

""ضلع بونیر میں داستانوی نثر کی ابتداء افسانے سے ہوئی کیونکہ اب تک اردو میں کوئی ناول نہیں لکھا گیا۔ ہم اردو کا پہلا افسانہ نگار شیرین زادہ خدوخیل قرار دیتے ہیں، ان کا پہلا افسانہ "دوسرا سہارا"، "شمع" رسالہ میں جون 1983ء کو شائع ہوا۔ اس کے بعد مسلسل ان کے کئی افسانے شمع میں شائع ہوئے"۔[xxvi]

د ارشد انور د مقالې د پورته حوالې نه دا اندازه هم لګي چې تر دې دمه لا په بونېر کښې چا لیکوال اردو ناول نهٔ دے لیکلے، بلکې دا یو حقیقت دے چې تر دې دمه په بونېری خاوره په غېر پښتو ژبه ناول نهٔ خپل لیکلے شوے او نهٔ د ترجمې په شکل کښې مخې ته راغلے دے ـ البته په دغه کال ۱۹۸۳ء یو اردو داستان "سلطان بدرون" د پمفلټ په شکل کښې د کوز بونېر لیکوال کشور خان لیکلے دے خو د بده مرغه اوس وخت ورک دے ـ

په بونېر کښې که مونږ اردو افسانوي مجموعو طرف ته راځو نو زمونږ سره په دې اړه دوه افسانه نګاران موجود دي چې تر دې دمه ئې افسانوي ټولګې چاپ دي ـ دلته وړومبے افسانه نګار چې په کتابي شکل کښې ئې افسانې چاپ دي هغه موسیٰ ګل ګل دے ـ وړومبی اردو افسانوي مجموعه "مدفن کہاں نصیب" ئې په کال ۲۰۱۵ء د اشاعت په ښه مخې ته راغلې چې ټولې اتهٔ دېرش (۳۸) افسانې، افسانګی لري ـ هم دا په بونېر کښې د افسانو وړومبی ټولګه ده ـ د موسیٰ ګل ګل دوېمه اردو افسانوي مجموعه "ڈھلتی شام" ده ـ دا په کال ۲۰۲۳ء کښې چاپ شوې چې په کښې ټولې اتلس(۱۸) افسانې دي ـ[xxvii]

د شیرین زاده خدوخېل اردو افسانوي مجموعه "دفعه ۱۸۲ "په کال ۲۰۱٦ء کښې چاپ ده ـ[xxviii] چې په کښې ټولې پنځلس افسانې دي ـ د پورته دوؤ افسانه نګارانو نه علاوه د بونېر په خاوره ځینې افسانه نګاران داسې شته چې اردو افسانه لیکي خو په کتابي شکل کښې لا مجموعه نهٔ ده راغلې،خو خپلې فن پارې وخت په وخت په مختلفو رسالو، ورځپاڼو وغېره کښې شائع کوي ـ

په دې لړ کښې معتبره نامه د پروفېسر نور کمال شاه ده، دا افسانه نګار نن سبا په ګورنمټ ډګري کالج طوطالی کښې بطور اردو اېسوسي اېټ پروفېسر خپل خدمات ترسره کوي ـ په اردو شعر او نثر دواړو قلم چلوي ـ افسانه نګار څوارلس

افسانې "گم شده منزل، اخیری فیصلہ، پروفیسر صاحب، بدلتے راستے، بارود میں کھلتے پھول، بدگمانی کے منڈیر تلے، غلام زادے، احمق، بھوک کے مارے لوگ، بے چاری، ڈھائی کنال کی جنت، یادوں کے قیدی، داداجی او "گڑیا" په مختلفو ورځپاڼو او مجلو کښې لکه مشرق، بیاض، آرژنگ، ادب معلیٰ او شعر وسخن کښې د شپږم اکتوبر کال ۲۰۲۰ء نه تر اکتوبر ۲۰۲۲ء پورې شائع شوي دي ۔ [xxix]

پروفېسر نور کمال شاه په شعر او نثر خپله طبع ازمائي جاري ساتي او تر دې وخته ئې دوه د اردو د طنز ومزاح کتابونه"نمک زار" (۲۰۲۱) او "مزاحیات(۲۰۲۳ء)" د چاپ په ښه راغلي دي چې مختلف مضمونونه لري ۔

د بونېر په نورو اردو افسانه نگارو کښې د خالد خان سیماب، پروېز بونېرے، حفیظ الرحمان، ارشد انور، نقاب خالد، شهاب خالد، هارون باچا، سحر علي سحر او د فرهاد علي فرهاد نومونه د ستائیلو وړ دي ۔

په موجوده وخت کښې د بونېر اردو افسانې په باب له د فرهاد علي فرهاد نامه ډېره اهم ده ۔ د طوطالۍ اوسېدونکے دے، د مئ د میاشتې په اتمه نېټه کال۱۹۹۰ء کښې د ښاغلي محمد اقبال کره پیدا شوے دے ۔ اردو پښتو شاعري هم کوي او په نورو نثري اصنافو هم خپله طبع ازمائي کوي ۔ نن وخت په پرائمري سکول کښې استاذ دے او په ادبي نړۍ کښې د خودخېل ادبي جرگې غړے هم دے ۔ تر اوسه ئې څلور افسانې "نئی زندگی، شب غم، مسافر" او"اخیری شاہکار" ئې په بېلابېلو مجلو لکه خیبر مېگزین، راني گټ مجله او خودخېل مېگزین کښې چاپ راغلي ۔ " اخیری شاہکار " ئې د درد او غم نه ډکه ډېره ښکلې اصلاحي فن پاره ده چې په خودخېل مېگزین (۲۰-۲۰۱۹) کښې راغلې ده ۔ [xxx]

نتیجه: په مجموعی توگه که مونږ د بره ذکر شوو داستانونو، ناولونو او افسانوي ټولگو او د دوي د خالیقینو جاج واخلو نو د بونېر د افسانوي فضا سر په کال ۱۹٦۰ء کښې لگېدلے، هر څو که د داستانونو څرکونه وړاندې لگي او شته، بیا چرته خاص خاص یوه یوه افسانه ډېر ډېر کلونه پس په نظر راځي ۔ په کال ۱۹۹٦ء کښې د شیرین زاده خودخېل صېب ناول "غازیان" او بیا ورپسې ئې وړومبۍ افسانوي ټولگه "میتریا" په کال ۱۹۹۸ء کښې د چاپ په ښه راغلي، چې د بونېر په ادبي مېدان کښې ښۀ بختور ثابت شول ۔ بیا حال حال نورې پښتو اردو افسانوي مجموعې مخې ته راغلې دي چې وړاندې ئې ذکر شوے دے ۔ په اخیر کښې زۀ د ځینې خورو ورو اهمو پښتو افسانه لیکونکیو یادوُنه ضروري گڼم چې افسانې ئې چرته په کتاب، قلمي مسودو یا رسالو وغېره کښې چاپ راغلي دي، دغه ستر افسانه خوښې لیکونکي د عمر د مشروالي په لحاظ څه دا رنگ دي؛ احمد گل ٦مخزن، انور بېگ باغي، علیم الله حېران، افسر علي افسر، نور زمان تنها، طاهر بونېرے، گلزار موسم، سوچي یوسفزے، سحر بونېرے، شاد یوسفزے، سحر علي سحر، ارشد انور او سردار علي شباب ۔

دا وخت که مونږ د لیکونکیو افسانوي ادب سره مینه او دغه رنگ په افسانوي فنپارو د خپلې طبع ازمائۍ جذبې ته اوگورو نو امید دے چې په مستقبل کښې به د بونېر افسانوي لمنه ښۀ ډکه او نوره ډېره ځلنده شي نیکې هیلې ۔

## حوالې

[i] همېش خلیل، د چاربېتي پخواني شاعران، امین پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۰۸ء، مخونه ۷۰۷، ۷۰۸

[ii] خدوخیل، شیرین زادہ، میراخدوخیل، الفیصل ناشران لاہوری، فروری 2021ء، ص100

[iii] د شیرین زاده سره مخ په مخ مرکه، د هغوي حجره خدوخېل، ۳۰ جنوري ۲۰۲۵ء، وخت درې بجې ماسپښین

[iv] حبیبي، عبدالحئ، پښتانهٔ شعراء (لومړے ټوک)، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، چاپ کال نهٔ لري، مخونه ۲۳۱، ۲۳۲

[v] عابد، عبداللہ جان، ڈاکٹر، پشتو زبان وادب کی مختصر تاریخ (طبع دوم)، یونیورسٹی پبلشرز پشاور، 2011ء، ص342

[vi] صاحب زر کلیاړوال سره مخ په مخ مرکه، د هغوي ځاے کلیاړی کلے، ۱۲ فروري ۲۰۲۵ء، درې بجې ماسپښین

[vii] خانے، خانم الله، قیصه د پیر بابا(رح)، کاتب فضل ودود بر تاکال پېښور، ۱۹۵۶ء، مخ ۲

[viii] اخوندخیل، حیدر علی، وادی چغرزئ، منظور عام پریس پشاور، 2013ء، صفحات114، 115

[ix] خان، حاجي محمد، درې ملغلرې، باب اسلام پرېس کراچي، ۱۹۷۱ء، مخونه ۶۸، ۶۹، ۷۰

[x] اسیر، احمد علي، پښتو ناول او ناولونه، یونیورسټي پبلشرز پېښور ، ۲۰۱۳ء، مخونه ۴۸، ۴۹

[xi] انیتا اعظم، ډاکټر، د پښتو په افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۰ء، مخ ۲۶۴

[xii] رشید احمد، پښتو ناول سل کاله، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۵ء، مخ۳۲

[xiii] انیتا اعظم، ډاکټر، د پښتو په افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، مخ ۲۶۴

[xiv] رشید احمد، تحقیقي لیکنې او څېړنې، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۲ء، مخونه ۹۸، ۹۹

[xv] د شیرین زاده خدوخېل سره د واټس اېپ د لارې مرکه، ۱۸جون ۲۰۲۵ء، وخت ۱۲:۱۰ سحر

[xvi] خدوخېل، شیرین زاده، غازیان، چاپ ځاے او کال نهٔ لري، مخونه ۶۰، ۶۱

[xvii] خدوخېل، شیرین زاده، غانټول، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۰۸ء، مخ ۰۹

[xviii] هم دغه اثر، مخ ۱۸۳

[xix] شاهین بونېرے، سدارتھ، ایلی چاپ چارې محله جنګي پېښور، فروري ۲۰۲۱ء، مخ ۱۰

[xx] هم دغه اثر، مخ "و"

[xxi] هم دغه اثر، مخونه ه، و

[xxii] همایون هما، ډاکټر، د پښتو ادب په ترقی کښې د قند مجلې برخه(پي اېچ ډي مقاله)، پښتو څانګه پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱، مخ ۴۴۷

[xxiii] هم دغه اثر، مخ ۴۴۷

[xxiv] ارشد انور ضلع بونیر میں اردو ادبی نثر (1991ء تاحال) تحقیقی وتنقیدی جائزہ، بی ایس مقالہ، گورنمنٹ پوسٹ گریجویٹ کالج صوابی، 2023ء، ص۹

[xxv] گل، موسیٰ گل، مدفن کہاں نصیب، مضمون پبلی کیشنز مردان، 2015ء

[xxvi] ارشد انور ضلع بونیر میں اردو ادبی نثر (1991ء تاحال) تحقیقی وتنقیدی جائزہ، ص۹

[xxvii] گل، موسیٰ گل، ڈھلتی شام، شعیب سنز پبلشرز مینگورہ سوات، 2023ء، ص3

[xxviii] شیرین زاده، دفعه۱۸۲، الفېصل ناشران وتاجران لاهور، ۲۰۱۶ء

[xxix] د ارشد انور سره د واټس اېپ د لارې مرکه، ۱ فروري ۲۰۲۵ء، ۰۹:۴۱ ماسخوتن

[xxx] د فرهاد علي سره د واټس اېپ د لارې مرکه، ۰۱ فروري ۲۰۲۵ء، ۳۰: ۱۰ماسخوتن